


د مولانا سعيد افغاني : آزاده ، تولنيزه، علمي ، فرهنګي او نشراتي ارګان ته ښه راغلاست !

## د مولانا داکتر محمد سعید « سعید افغانی » لیکنه

د بیا نشر نیته : 16 سپتامبر 2021 میلادی

# اسلام د ادب او د اخلاقو دین دی

ځومره چه د اسلام د مقدس دین پر متعلق د نویو علومو د انکشاف توجه او ښتی هغو مره دا حقیقت روښانه شوی دی چه اسلام ښه د اداب او د اخلاقو د تربیی دین په دغه مقدس دین کښی د تولو طبقاتو حقوقو د تامین د پاره محفوظ ساتل شوي دي او یو تربله د متقابل احترام ساتلو او ښه سکوک د پاره ډیر پاخه او قوي اساسونه لري .

په دغه دین کښی د اقربا وسره د صلی او علاقی باریک رمزونه شته او د دوستانو او آشنایانو سره د مینی په لیاره د ګډو اهدافو منځ ته راوستلو د پاره په کښي قوي راز موجود دی.

اسلام د عمومي اوضاعو او د عامو خلکو سره د ښه ژوند کولو قوي خیال ساتلی دی او د یو مکمل ادبي او اخلاقي ژوند د برابرولو د پاره په کښی پاخه اساسونه شته دي، کوم ادب او اخلاق چه د اسلام په مقدس دین کښی په تول کم او کیف سره د خلکو د خیر او سعادت د پاره لیدل کیږی ، په دی اندازه په بل هیڅ کوم دین کښی په لاس نه راځي .

د پلار او د مور د حقوقو لحاظ ساتل ، د مشرانو احترام ، دلویانو قدر او تعظیم، ورور سره صله او عاطفه ، د ملګرو سره صداقت ، د همسایه ګانو سره ښه سلوک او ګذاره ، د عاجزانو سره مرسته او تعاون، د مصیبت او تکلیف په وخت لاس ورکول ، د خوراک او څښاک نورو حیاتي مسایلو کښی اعتدال ، عمومي حقوقو د تقویی د پاره توجه او دا او داسی نور اداب او اخلاق د اسلام پر مقدس دین کښی هیڅ کله خپل ادبي او اخلاقي اعتبار دلاسه نشی ورکولی .

په اسلام کښی د نفرت ، عداوت ، کینی او حسد تولی ریښی ایستل شوی دي او دین د محبت او همکاری د تامینولو د پاره پوره پوره توجه کړی ده .

اسلام د کبر او غرور سره مجادله کړی ده او له دغی لیاری ښخه غواړي چه خلک د وروروالی او برابری په فضا کی ژوند وکړي.
په اسلام کی د عفوی او ګذشت او د بیا بیا پیوندلو د پاره لیار ښونه او تشویق شوی دی او د دی لیاری ښخه غواړی چی اجتماعي شیرازه باید قوي وساتله شي .

په اسلام کښی د خبرو او وینا د پاره حدود معلوم شوی دی او د ژبی د اصلاح کولو د پاره پوره توجه شوی.

د اسلام مقدس دین د علم او پوهنی د پاره عمومي توجه اړولی ده او د عقل او دلیل د لیاری ښخه غواړی چه خلک خپل ژوند نه ښه استفاده وکړي .

اسلام کوشش کړی دی چه د خلکو مدني ، اقتصادي ، سیاسي ، ثقافتي ، ادبي او اخلاقي ژوند په داسی پایو اتکا و لری چه هغه د انسان اصلي د طبیعت او استعداد سره برابر او د عمومي مصالحو د تامین د پاره مفید واقع شي .

اسلام د وهم ، وسواس او بی مورده ګمانونو طرفدارنه دی ؛ او د پوره دقت پرلیاره کی غواړی چه حقایق روښانه او د خلکو حیاتی مشکلات لری شي .

اسلام د عفت ، تقوی، پاکی او نظافت طرفدار دی ؛ غواړی چه د خلکو ژوند په ظاهر او باطن کی پاک او سوچه وي.

اسلام د اسراف او تجاوز طرفدار نه دی ؛ غواړی چه خلک دی باید په هر ښه کښی د اعتدال لحاظ قوي وساتي.

اسلام د غدر او خیانت سره مجادله کړی ده ؛ غواړی چی خلک دی یو تر بله د تکالیف او مشقت موجب ونه ګرځي .

نو په دی اساس که څوک د اسلام مقدس دین تر پوره عمیقی مطالعی لاندی را ولي ، د ادب او اخلاقو کامل او مکمل دی. او د هغه ښخه په استفادی سره د ننني علومو په اساس د حقیقي او واقعي ژوند برابرولو لیاره پوره ارزښت لري.

راځی چه مونږ د اسلام د دین د ادبو او اخلاقو ښخه ځان پوره واقف کړو؛ تر څو وکړی شو د ځان او د خلکو د سعادت په لیاره کښی ، د ښوخدمتونو مصدر وګرځو.

و من الله التوفیق

سعید افغاني
کابل ـ ۱۳۵۵ هجري شمسي ـ کال

ترتیب کوونکی : برهان الدین « سعیدی »

www.said-afghani.org ـ بازگشت به صفحه اصلی